مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان

۲۰۲۳/۰۳/۱۱

# د عجز سجده

## (نظم)

د اسمان له بلندي نه
د افتاب له روښنايي نه
د سپوږمۍ له رڼايي نه
د نړۍ له ابادي نه
د مجنون له عاشقي نه
د ليلا له بې زاري نه
د پادشاه له پادشاهي نه
د اقا له غلامي نه
د شاعر له شاعري نه

د ساقي له پيماني نه
د مې خور له افساني نه
د فردوس له شاهنامي نه
د مينو له کيسي نه
د رقيب له انديښني نه
د مست سيند له کنارې نه
د ژوندون له حادثي نه
د وجود له قفسچې نه
د ادم له اولادې نه

د ګودر له مست ماښامه
د پيغلوتو له اندامه
د کيسو له دغه بامه
د شرابو تر روغ جامه
د هندوانو له خدای رامه
د حسينو له کالامه
د سپين مخو له سپين شامه



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د مورکۍ له سختـه پامه
د کوچني له لومړي ګامه

د عشقونو له دردونو
له خالي خالي ذهنونو
ستا له ښکلو جنتونو
هم زما له حسرتونو
د سرو شونډو يرغلونو
د خانانو له کارونو
د غريب له بېګارونو
د انا له خواهشونو
ان دا ستا د تورو زلفو
له عطرونو له بويونو

زما د خاورې کورګۍ ښه دی
زما لاټين او شمعه ښه ده
زما جونګړه زما مينه
زما د ميني غوسه ښه ده
زما ملنګه وينا ښه ده
زما نشه او کيسه ښه ده
زما غزل، قصيده ښه ده
بې پرواه زړه په دنيا کې
او شوګير ستا په يادو کې
زما کښتۍ په سفر ښه ده
زما رب، عقيده ښه ده
زما د کلي شډل وزمې
کوچنۍ تلوسه ښه ده
زما درد، حوصله ښه ده
زما خواره نړۍ ښه ده
زما وانۍ تښتېدلې
ستا په مخ کې شرمېدلې
ټپي شوی زړه لا ښه دی
او له دې ټولې کيسې نه
زما د عجز سجده ښه ده!

سمسور ودان


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ